اسلام لەستروفاتحینوسره مورچل پەمورچل گرزیدلی اودهغوی کارنامی یی دخپل جادویی‌قلم پـــه شهکا ریوا بدی کړی دی، اودادی نن هغه‌لگیادی زموږدموۍ من اوبرمیا ل ولس داتلوالیوپه‌بابـیا خپل بیا وړی قلم چلوی. داهم بایدووایم چی دغه ناول پەنږدی پنځوسوومخونوکی چاپ شوی دمجلی لپاره مودالازمه وگنله‌چی لەژبا ړی سره‌لږڅه‌تلخیص‌هم شی نوځکه‌ځنی پیښی پکی را لنډی شوی دی که‌یـی د مستقل کتابی شکل دچاپ امکانات برابرشول بیا بەبشپړه ژباړه درنولوستونکوته‌وړاندی کوو او وروستی خبره داچی دلیکوال دسریرزی لومړی برخه موهم دناول سره‌دارتباط پەخاطر را ژباړلی ده لەوروستی یوی برخی څخه صرف نظرشویدی نوردا تاسوا وداهم"دتیاروشپودمسافرو"دردونکـی داستان.

" ژبـــاړن "

ړومبـــی خبـــری :

زماپەمخ کی دتاریخ هغەپاڼی پرتی دی چی پەاندلس‌کـی دمسلمانانووروستی پاچاهی "غرناطی"لەتباهی وروسته‌هغـه سترقام هم خاوری شوچی غازیانویی اتەپیړی وړانـــــدی. جبل الطارق تەمخامخ ددریاب پەغاړەخپلی کښتی سوځولـــی وی.

ماتردیره وخته دساحل پرغاړه هغەقافلی لیدلی چی دلاری پرسرپاتی گردونواودوړو کی یی داسلام دزړوروبچیانوتیـــر عظمتونه اوویاړونه‌پټ ووا وبیا زماسترگوتەهغەشیبی هـــم ودریدی چی د" فردیناند" پـــو ځونه غرناطی تەننوتل .

دطارق اوعبدالرحمن داولادونوآه‌اوافسوس می رساواوریدل.

دغرناطی دبودا کانوا وځوانانودذلت اورسوایی زړه‌لړزوونکی منظری می هم ولیدی پرکوموچی درحم تـهپـــو لی دروازی د تل لپاره تړلی شوی وی .

څوځواری می پەزوره‌زوره‌وژرل!!

دغرناطی دبرمناکوتالارونوا ولەکنی‌گوښی‌دکوکورونوباژارونواو کوڅوپەمخ کی ودریدم ،ما دهغوخاینانوکرس کرس خنداگانی هم واوریدی چی لەدیری مودی یی ددښمن دراتگ لپاره تیـــاری نیولی وه ، زماپەمخ کی اصلا" دهغەقافلی سرگدشت غوړیدلـی پروت دی چی پرراتلونکی یی دتوروتیاروپردی پرتی وی.

داندلس دتاریخ پاڼی می هغەوخت واړولی چی کلەدهندوانو یومتعصب لیډرووبیل :" کەلەاتوسووکالووروستـ[redacted]دا سپانیـــا دمسلمانانوسوم بیرته خاوری کیدای شی نوپەهندوستـــــان کی ولی داسی نشی کیدای ! " اوبیاچی کلەد۱۳۶۵کال جگړه دیوه حقیقت پەڅیرزموږمخی تەراغله نوپردی پوهیدل مشکل نەووچی دسولەشیزسیاست ترپرده لاندی دبرهمنی ښکیلاک ناولی هدفوبەپټ ووا ودهندوستان پەساره‌اوا وردوکی داندلس تاریخ دتکرارلومړنی تمرینونەپیل شویدی .

ددی کتاب دلیکلوپەپیل کی می فکرکاوه‌چی داوربندلیـــه تړون نەدغرناطی ترسقوط پوری چی کومی پیښی راغلی هغـه بەدکتاب پەدری څلوروبابونوکی ختمی شی بیابه‌تر (۱۵۰۲م) — پوری دتیاری شپی دمسافروسرگدشت ولیکم‌خودیوه‌اوږده‌داستان لپاره‌ول زماپەوس‌کی نەوو .

بیاکلەچی ماله‌نیمایی نەزیات کاره‌ختم‌کړی وۍ د"داکــی د سقوط ، سترماتم پیښ‌شو اوبیاتردری میاشتوپوری چـــادا پوښتنه‌همونه‌کړه چی زەژوندی‌یم او‌که‌نه؟ماپه‌زړه‌کی‌پەواروارد‌ا پوښتنه کوله‌چی آیادغرناطی اوبغداد سقوط دمسلمانانـــو دعبرت لپاره کافی نه وو؟! آیاد داکی دسقوط نتیجی بـــه یوازی دمشرقی پاکستان ترپولوپوری محدودی پاتی شی ؟

د۱۹۷۲ دکرمی پەموسم کی می ځان تیارکړا وپەزړه‌کی می پـه کلکه وویل چی دراتلونکی،کال ترمارچ پوری بەداکتـــابـ بای تەرسوم خوزماپرذهن دداکی دسقوط اغیزی تراوسەپاتـی وی، بالاخره‌دنومبرپەمیاشت‌کی زەداعمابوپەځانگړی مریضی احته شوم‌اونږدی شپږمیاشتی مالەځوپانوزیات څەونەلیکلی شوای ،اواوس‌چی کتاب‌ختم شوی دی نوزه‌حس‌کوم‌چی دداکـی اوغرناطی سقوط دیوه داستان بیلی بیلی کړی دی همغـــه اوښکی زمایەمخ کی دی،همغه زړه‌بوږنوونکی منظری دبوداگانـ ـوا وځوانانوهمغه‌دنب اورسوا سی چی په ۱۵۰۲ میلادی یی‌غرناطه پەخپله لمن نغښتی وه په ۱۹۷۱ م کی یی داکه‌پەغیږه کـــی راونغښتله .

" نسیم حجازی "

سینتافـــی :

د۱۴۹۱م کال وروستی میاشتی یوسهاردختیځ پرافق لمرخپــل سررا پورته کړا ودخپلوزرینووړانگوجال یی پرویړه‌سیمـــه وغوړاوه، دلویدیزپرغروتوویدی تیاری ورووروخوځیدی او خپله لمن یی ورټوله کړه، دسرانویدا ، النفجاره اوالحمــر دلوړولوړوغرونوپرڅوکودوا وروسپین تاجونه دلمرشغلوتـــه وځلیدل دسینتافی پەیوه پوځی کمپ‌کی ورو ورودخلکوتـــگ راتگ پیل شـــو .

ملکه‌ازابیلالەشاهی خیمی نەلږلر ی پریوه‌غونډی ناسته‌وه اودغرناطی نیاره‌غونډی منظره‌یی مخامخ ښکاریده ،کلەکلـــه بەیی نظرپرشاوخواولاړوخیموا ویا وړاندی دویگاپەهسکوتپتـو کی پرویځاړوا وسوځیدلیوکلیوولگیدکوم چی رڼگوا وسوځیدلیو کورونویی دسختی جگړی شاهدی ویله ،خوځوشیبی وروسته‌بـــه یی بیرته هغەلەطلسم‌نەدک ښارچی پەشپږمیلی کی یی لوړلــوړ مناروپه‌هروخت لەلری ښکاریدل اودهغی پەذهن کی نقـــش وو تظرهغی خواتەوروگرځاوه .

ملکه‌ازابیلاپه‌ژوروسوچونوکی دوبەوەچی ناځاپەیی دآس د پښوترپهارترغوږشوا وچی پورته‌شوه‌کیفنی لوری تەیی وکتـــل " فردینانډ" غونډی تەراورسیدا ودآس لەشانەیی ټوپ واچاوه وړاندی راغی دملکی لاس یی ښکل کراوویی ویل : نن هوادیره سړه‌ده. تاباید‌استراحت کړی وای ."

ملکی ځواب ورکـــړ :

" کلەچی وروستی منزل دومره لنډوی نومسافرآرام‌نشــــی کینا ستلی،نن سهارمی دادرپه‌یا دول غوښتل چی لەاوربندنـه لس ورځی تیری‌شوی اودتړون دلاسکیک لەمخی موږبایـــد دسینتافی ترغرناطی داشپږمیله‌لاره‌پەراتلونکو(۶۰) ورځـــو کی لنډه‌کـــړو".

فردیناندځواب ورکـــړ :

"ملکی ! تەداسی فکرولی نەکوی چی دا (۶۰) ورځی اوشپږمیله دهغه‌قوم دژوندا ومرگ ترمنځ وروستی فاصله‌ده‌چی اتەســوه کاله‌یی پەدی ځمکه‌حکومت‌کړی وۍ ."

.زه‌پوهیږم چی ستاپەذهن کی تراوسه‌د"ریمنیس "دلنک اعـــزه

ده ،خوهنه‌بودا راهب ته‌خه‌پته‌ده‌چی هه‌قوم چی دنا بودی پـــر
خه‌ده دریدلی دی دخوکالوپه‌ترخ کی بی له‌جبل الطارق خخـــه
دپیرسی ترغرونودکلیسا بیرغونه‌راسکورکری وو .
سیا دوا ره‌په‌چوکیوکیناستل ازابیلا وویل :
" ره‌ستا له‌رایی نه‌مخالفت نه‌کوم زه‌په‌دیخبره‌ویارمچی پـــه
کومولاسوداندلس دآزادی دیوه بلیدونکی ده هغه‌زمادمیــــره
لاسونه‌دی، اوزیمنیس هم ستا په‌ستروستروفتحواعترافکـــری
وی .
فردینانـــد : ماده‌غه‌لیک‌لوستی دی.هغه‌غواړی چی مـــورد
اورسندترون بیرته مات‌کرواو پرغرناطه‌یرغل ورورو .هغـــه
یوازی یومذهبی راهب دی اوزه‌دتول وضعیت‌څارونکی سپاهی
یم ، هغه‌پوهیږی چی دغرناطی اپوسیدونکی مرەشوی دی اواوس
یوازی دهغوی دلاشونوتونی کولوکارپاتی دی، خوزماسپاره‌د
غرناطی حالت اوس‌هم هغه: ورغورځونکی غره‌ته‌ورته‌دی چـــی
ویلی شوی موادیی په‌ځوښ‌راغلی ددی اوزغورځوونکی غـــره
پرغاره دکلیسا داقتدار بیرغ له‌ځرولوپخواددی ضرور ت
دی چی ایسیدونکی وبلی موادسی ساره ٔ شـــــی .

داسیی ده‌چی زموږلښکرله‌غرناطی نه‌شبرمیله‌لری پروت‌دی
خواوس‌هم دغرناطی په‌منځ منځ کی زموږجکړه‌روانه‌ده‌اوددی
قوم ځنی داسی کسان شته‌چی همدااوس‌دخپل قامدمقاومـــت
اوتینگاربرجوسه‌نږوی .
آیادازموږستربری نه‌دی چی کوم کارچی موږدزرگونــــــو
سپاهیانوپه‌قربانی ترسره‌کولی شواوس‌هغه‌دداسی چاپه لاس
ترسره شی چی زموږدبیمن یی دخپلی وروستی کلاساتونکی گنی.
ازابیلا وویل :
زه‌هره‌شیبه‌دادعاکوم چی نه‌له‌ابوعبدالله نه‌کومه‌تمه‌لری
هغه‌ترسره سی خوکله‌کله‌ماداخبره دیره‌خفه‌گوی چی هغه‌یوځل
له‌تاسزه وعده خلافی کریده‌نودوهم‌ځلی پرهغه‌اعتبارهوښیاری
نه ده .
فردیناند: دقسطله‌راهب هم همدعه‌خبره‌لیکلی وه‌خودابالکل
غلطه ده‌چی زه‌پر هغه اعتمادلرم‌هغه‌بوعیاش ،تنبل اودبـــد-
لیدونکی مزاج خاوندی خوهغه‌ته‌زه‌اړینم ځکه‌چی هغه‌دخپل‌قوم
ذلت‌اوسپکتوب‌لپاره کوم وسایل براببرکری دی بل څـــوک
هغه‌نشی براببرولی، اوس‌دغرناطی حالت هغه‌زخمی زمری تـــه
ورته‌دی چی په‌اغزنه‌ونه‌خپل زخمونه‌گروی،اوزه‌ددی پرځای چـــی
رامخکی شم او وروستی گوزاروررکرم‌ابوعبدالله‌ته‌ددی فرصت
ورکوم چی دغه تبی زمری وتری اوزماپه‌پښوکی یی وغورځوی.
زه‌دخدای (ج) شکراداکوم چی موسی بن ابی غسان کوم‌سری
دترکانوا وببربریانودمرستی غوښتلولپاره‌لیږلی و، هغه‌پـــه
مالتاکی بندی‌پرو ت دی، که‌مسلمانانوله‌بهرنه مرسته‌ترلاســه
کری وای نوزموږجوړه‌شوی لوبه‌به‌گډه‌وډه‌شوی وه .
ازابیلا:
" شکردی چی ستادااندیښنه‌هم‌لری شوه .
فردیناند: زمادااندیښنه‌به‌هغه‌وخت‌لری شی چی هغه‌دیـــو "
بندی په‌حیث‌زمامخی ته ودروی اوبیاڅوک وواییی چی دا -
" حامدبن زهره" دی .
ازابیلا : ولی زموږسفیربه‌دهغه‌پرځای بل څوک لیدلی وی چی
بندی دی ؟
فردیناند: نه.ماچی کومه‌کښتی په‌هغه‌پسی لیږلی وه‌تراوســه
یی درک نه‌معلومیږی .
ازابیلا :دترکانوجنگی کښتی په‌دریاب‌کی یوه اوبله‌خــــزا
گرځی خدای (ج) دوکړی چی له‌هغی سره مخامخ نشی .که‌هغـــه
غرناطی ته‌راورسیږی وضعه‌په‌خطرناکه شی .

فردیناند وویل : کله‌کله دشپی په‌تورتم کی له‌ویری دیو ه
سری چیغه تول کلی راویښوی ،دازماسترمسئولیت‌دی چی پـه
کوم کلی چی زه شو خون وروړم‌هلـه بایدیوڅوک هم نه‌وی چی
چیغه وکری اوکلی راویښ‌کړی چی په‌نتیجه‌کی‌یوه‌کښلی جنگ
ته‌دبیاجگړی ضرورت پیښ‌شی .
ملکه ازابیلاخفه‌شوه‌خپل میره‌ته‌یی وکتل دهغی حالت هغـــه
ماشوم ته‌ورته‌و لکه‌یوه‌ښکلی ناڅکه‌چی په روزتری واخلی.
فردیناند دهغی دتسلی لپاره وویل :
ازابیلا ! زه‌ستاخفگان نه‌غواړم به‌دی باورلرم‌چی دنوی کال
په‌پیل کی به‌زه تانه‌غرناطه‌سوغات‌ورکوم ،ځنی خبری داســی
دی چی زه یی اوس‌تاته نه‌شم ویلی اوزه‌غواړم‌چی یوه‌ورځ نا-
څاپی زیری درباندی وکړم .
دآزابیلاتندی له‌خوښی‌نه‌وځلیده‌اوختیځ لورته‌یی دغرناطـــی
پر ناړسرگی خنګ کړی ... سماسی وولی :
هلته‌دیرخلک‌ښکاری هغه‌څه‌کوی ؟
هغه‌لاره‌جوړوی .
اوه دڅه لپاره؟
دتجارت‌لپاره غرناطی ته‌دغلی ،میوی اونوروارتیاوړشیانو
درسولولپاره .
ازابیلا په‌دیری پریشانی وویل :
نه‌ربښتیا غواړی دوی نه‌دتجارت‌لاره‌خلاصه کړی ؟
هوزه‌ددی خبری عملی ثبوت‌ورانډی کوم چی دقسطلـــــه‌ر م
زړی ملکه پرخپل نوی رعیت دلوړی مرگ نه‌لوروی،که‌څه‌هــــم
ریمنیس داکارهیڅکله هم نه‌منی ازابیلا وویل : که‌هغـــه
داسی خبره واوری ځان به‌ووژنی .
فردیناند وخندل : آیاهغه‌ته‌ددی ویل کافی نه‌دی چی د
غرناطی خلکونه دڅو ورځوخوراک تیارولوپه‌بدل کی هغه‌دتل
لپاره دخواری اوغریبی په‌کندوکی غورځول زموږلپاره‌گرانه
نه‌تمامیږی .
ازابیلاوویل : زه‌په‌دی پریشانه‌یم‌چی زه ستاپه‌پروگرام پوه‌نـــه
نه‌یم خبره څوپه‌دی یوه خبره زماسرنه‌خلاصیږی چی زمـــــوږ
دبیمن اته‌سوه کاله‌په‌دی ملک له‌حکومت په‌وروسته‌اوس‌ولـــی
دومره په‌عقلت‌کی دی آیاهغه‌په‌دی هم‌نه‌پوهیږی چی کله‌زموږ
پرمخ دغرناطی دروازی خلاصی شی ددوی دحساب ورځ به‌رارسیږی
فردیناند ځواب ورکړ: هغه‌په‌هرڅه‌پوهیږی خوکله‌چی دیوه‌قوم
دزوال وخت‌راورسیږی هغه‌بیاخپل ځان عولوی اودقوموســـو
داخلاقی کمزوری وروستی مرحله‌هغه‌وی چی دخپل ژونددنقـــا
لپاره ترهلوځلوځان وژل آسانه گنی، نن‌زموږددبیمن همدغه
حال دی ، دازموږنیکمرغی ده‌چی دی ولس‌چی په‌کوموخلکــــو
رونه‌ترلی دی هغه‌بیازموږپه‌لمن کی لویدلی دی .
ازابیلاوویل :ابوعبدالله ته‌دامعلومه‌ده‌چی څوهفتی وروسته
به‌دهغه پاچاهی ختمیږی اوددی پرځای به‌په‌انعجاره‌کی یـــوه
ورەسیمه دڅه‌مودی لپاره ورکول کیږی، ابولقاسم‌ته‌به‌هـــم
وزارت‌پاتی نشی نوبیادوی په‌کومه‌تمه‌له‌موږسره‌پملوـــــه
کی ملگری شوی‌دی ؟
فردیناندوخندل : لوبه‌بوای زماده ،هغه‌دواړه‌خودشطرنــــج
داسی دی، ابوعبدالله‌خوله‌هنوخلکونه‌دی چی دځنکدن پـــــه
حالت‌کی هم مرک‌ته‌ددوکی ورکولوزیاربا سی اوابوالقاســـم
خوربښتیا هم چالاک دی خوبه‌غوړوا وچربووعدوبی ښه‌څوشالـــــبه
ساتلی شـــم .
زه‌هغوته لیکلی وعدی ورکوم خوچی وخت‌راغی بیابه‌نـــــه
وعدی وی اونه‌هغه‌پخوانی خبری دوی به‌په‌خواری اوبی وســـی
کی پاتی کیـــږی .

ازا بيلا بيا وويل :
كەحا مدبن زهرەلەبندە راوسبتى اوغرناطى تەراشى سوبيا بە رموڕپرحلاف خلك راوپا روى .
فرديناند ځواب وركر :
تەبيغمە اوسەماددى هم چارە كڕى دە .
خورا تەووايە تەزمادا عصابوا متحان ولى اخلى ؟
فرديناندپەفاتحانە دول هغى تەوكتل اوويى ويل :

ماددبنمن لپارە زندان جوركرى دى چى دغرناطى دآزادى رون پكى ببدى كڕم ددى مياشتى ترپايتەرسيدومحكى بەدعرناطى ځلورسوە كسان موڕتە يرغمل سپارل كيڕى، دعەځلورسوەكسان تەدسوځ اودغرناطى دمشراسولەدلى سدوى حي دهغوى لەپريكڕى پرتە بەپەغرناطەكى هيڅ كلەكوم حركت پيل نەشى .
ملكي ازابيلا فرديناندتەپەتعجب وكتل سيايى وويل :
ستا مطلب دادى چى ابوعبداللەاوابوالعاسم بەدعەكسان دمبڕو اووزوپەځيرلاس ترلى تاتەراولى تودغرناطى پوځ اوولس بەځە عكس العمل نەښيى ؟
نەتەدادابولقاسم مسئوليت دى چى دخلكوداعتراض مخەونيسى .
ملكي وويل : داسى يم لكەخوب چى وينم آياتەپەدى بساور لرى چى ابولقاسم بەستادا غوښتنەومنى اوخلك بەلەهغەسرە مخالفت ونەكڕى ؟
- هغەدا غوښتنە منلى اوخلكوتەيى پەدى قناعت وركڕى چى دتجارت لارى خلاصيڕى ، سولەراځى اوجنگ جگڕى بەپاى تەرسيڕى ....

تيرى روښنايى اوراتلونكى تيارى :

دغرەپرلمن ديوە كلى درى خواو تەپرتوبا عونوپرپا نبو دمنى نبى رانبكارەشوى وى، جموبى لورى تەديسرا نويدابو رولوڕوغروپرځوكولومڕى واورەاوريدلى وە،سلمىٰ دكلاپربام لمرتە ناستە وە،پرپنځوس كلنى كى يى هم پەځيرەكى دځوانى اثارنبكاريدل عاتكەيوە ځوارلس پنځلس كلنەنجلى چى پرهوښيارە اوښكلى ځيرە كى يى دعربو،بربراوهسپانيې عورە ښځينە نبى راعوندى شوى وى يوكتاب پەلاس كى پە زينوكى ښكارە شوە سيغە راعلەاودسلمىٰ سرەپرقالينە كيناستە .
تروروجاسى ! هغى كتاب خلاص كڕاوويى ويل :
رە دسعيددوى كرەنللى وم چى كتاب راورم حولەزبيدى سرە پەخبروشوم لڕوځنديدم ،سعيدترا وسەلەغرناطى بيرتەنەدى راستون شوى ، منصوردپرغمجن وى ، جعفراوزبيدەهم پريشانە ووجعفر ويل كەترمانباسە رانەغى زە ورپسى ځم اوپوښتنەيى كوم ، هغوى پەدى اندېښنەكى وو چى دغرناطى آزادى خرځو- ونكى يى عيسويانوتە پەلاس وركڕى .
سلمىٰ جگە شوە ودريدە اوتوى پيغلى تەيى پەدا دمنەلهجە وويل :
عاتكې ! زەپەدى پوهيڕم چى لەوراره اوتوكرانونەيى دسعيد پەباب تەديرە انديښنە يى ځوتە بايدا دەوى چى پەدى ترددى وحتكى ابوعبدالله ځلورسوە كسان فرديناندتەپرغمل سپارى لەهغى وروستە ددى ويرە بشتەچى ځوك نبيا دسولى پە مخالفتكى څەخبرە وكڕى .
عاتكې وويل : تروروجاسى ! زەدمنصورپەباب حغەيمدهغى نبيلە سعيدتەبل هيڅوك هم نشتە .
سلمىٰ وويل : لورى ! زە بەدى كاكاتەووايم چى يوښوكر

غرناطى تەولبڕى اودسعيدپوښتنەوكڕى خوكورەستا ديرتك دسعيد كوزنە ښەنەدى، سعيدښە سڕى دى اوستاپركاكا هم دراميوپەځيرگران دى حواوس تەهم پيغلەيى ستا ورتگ ښەنەدى لەبلى حواستا دكاكا پرزوى "عمير" هم ښەنەلگيڕى .
عاتكى پەغوسە كتاب يوى خواتەكيښوداووى ويل :
تاتە خومعلومە دەچى دعميرنوم اوريدل مى نەخوښيڕى .
سلمىٰ موسكى شوە ويى ويل : ماتەمعلومەدەاوزماهمدهغى ځنى عادتوسە نەدايشى خوستاپركاكالەامين اوعبيدسەعمير ديرگران دى، هغەفكركوى چى سەلويەتى نبيا بەدى بدسەترى راځى .
عاتكې وويل : تروروجانى تەځەوايى ؟
سلمىٰ : لورى ! زمادا مطلب نەدى چى ځوك بەتاپەزورمجبور كڕى حوكاكا دى وايى چى عميرپەدى ورځوكى راځى نوتەلرپام كسوە .
عاتكە ديرساعت چوپ وە نبيايى وويل :
كاكامى چى دعميرنوم ديرغمل كسانولەليست نەويوست نواميين اوعبيدڅەگناەكڕى وەچى نەيى ايستل ؟
سلمىٰ جواب وركڕ : كاكاتەدى وزيرابولقاسموبلى ووچى دا يوزوى دى پرينبودى شم دنوروپەباب كەڅەوايى نبياخودانور مشران راباندى پرەاچوى .
عاتكې وويل : نبيامى كاكاجان دعميرپەځاى امين ياعبيد ولى نەراگرځاوە .
نەپوهيڕم دادهغەكمزورى دە .
دعميرمورهم ستاپركاكاديرەگرانەوەاوچى هغەژوندى وەزە يى لەكورە وشرلم زە لەامين اوعبيدسرەيوځاى ستالەپلارسرە غرناطىتەتللى وم ،كلەچى دعميرمورمرەشوەستاكاكا پەخپلە سهوە پوەشو اوزەيى بيرتە راوستلم .
تروروجانى ! كەنەپەغوسە كيڕى يوە پوښتنەكوم.
ووايە !
تەپەدى داده يى چى كاكاجان ددښمن باداری پرځان منى؟
سلمىٰ ځواب وركڕ : نەلورى ، دچاچى درى وروڼەشهيدان شوى وى، بدن يى ټپى ټپى وى اوبولاس يى هم پەجها دكى غوځ شوى وى هيڅكلە هم دښمن تە دغلامى سرنە ټيټوى .
عاتكە : نوخپل زامن يى ولى يرغمل دښمن تەولیڕل .
سلمىٰ : لورى دادابوعبداللەاوابولقاسم كارونەوو .
عاتكە : تروروجانى كەحا مدبن زهرەپەخپل مقصد كى كاميا شى اودسركانواويادمراكش دخلكوكومك موڕتەراورسيڕى نو نبيا بەزما كاكاڅە كوى ؟
سلمىٰ عاتكى تەپەحيرحيروكتل نبيايى ورتەوويل : لورى تە چورتمەخرابوه كلەچى دجهاد غږاوچت شى اودغرناطى د آزادى نغارە وغږول شى نبياستاكاكا دخپلورامنولپارەدغر- ناطى آزادى تەقربانوى .
سبى دە چى اندلس نبيادبوە يوسف بن تاشفين انتظاركوى حواوس نبيل وحت دى، هغەوحت داندلس دعوامواجتماعى شعور روندى وى اوتولوديوسف بن تاشفين هركلى وكڕحودغرناطى اميران اوس سولە دخپلى آزادى پەبيەاخلى اودلته او س عالمان اميران اوعام ولس ټول خپل ځان غولوى،داسلام غازيانوخپلى وينى وراندى كڕى حودغرناطى جلكوپرهغو وينودخپلى آزادى ديوەبلغونەساتلەكە پە .... كى دژوندځە نومە ساتى واى نوموسىٰ بن ابى غسان عوندى سرمولهدبە يى نااميدە دسها دت پەلاربوازى نەپريښود .
عاتكە : تروروجانى ! دنااميدى خبرى مەكوە ،اوس همدنى قوم دخلاصون لپارە حامدبن زهرە عوندى مجاهدشتە ،

سلمێ : دغرناطی خلک اوس دهغی ورحێ انتظاربا ئێ چی د فردینا ندلنبکری ہا رنەنوزی اوخوهغێ وروستەپرهعوی هعە تیارە شپە راتی چی پەتعدیرکی یی لیک دەاو هیڤیا نەلری، دغرناطی خلک اوس پەدی یقین دی چی حامدبن زهرەزوند ی نەدی .

عاتکە : دخدای (ج) دپارە داسی مەوا یەهغەزوندی دی هغە حتماً راڤێ .

سلمێ : لوری ! زەتا دنا معلوموا میدونولەدیووبلولونەنەمنعەکوم خوزماترسترگوخوداسی تیاری دی چی دروبنا یی‌هیچ ڤرک پێکی نەلگی .

عاتکە : تروزجانی ! زە خودفردینا ندلەغلامی نە لەخهل ماما سرە دالفجارە لەآزادی غوبنتونکوسرەوینوتوپولوتەتہاوہم پلاربەمی ویل چی پەدی دنیاکی دمسلمان لپارەدآزادی لە ژوندنەهمغورە اوسترنعمت دشها دت مرگ دی .

دعاتکی پەسترگوکی اوبکی وځلیدی پورتەشوەاودلویدیځ لوری تەیی دغرونوپەمینځ‌پەیوەزورنا وسترگی خبی کسړی . ددی ناوپەپای کی دهغی سترکی پەیوەکورولگیدی چی هغە پەکوچنی والی کی لەمورسرەهرەورځ ورتلە .اوعاتکەوروورود تیروخاطروپەتیا روکی ورننوتلە .....

دادمحمدبن عبدالرحمن کوروٴ چی دهغەمیرمن آمنەدعاتکی دمورملکری وە دکلی خلکوبەویل چی دآمنی پلارحامدبن زهرە دیرلوی عالم دی اوپەغرناطەکی دعاتکی

دپلارکور دحامد بن زهره

دکورترڅنگ وٴ ، سعیددحا مددریم زوی لەعاتکی نەدری کالە مشروٴاوهغەیی دما شومتوب دلوبوملگری وٴ دسعید دوە مشران وروڼە دجنگ پەلومړیوشپوورڅوکی شهیدان شوی وو او دهغە پلاراومورپەیی دحجدا ومیرانی کیسی کولی .

دحامدبن زهرە لورآمنەپرعاتکەدیرەگرانەوەاوهغەبەیی خالەبللەآمنی لەپلارنە دینی کتابونەلوستی ووا وهغی بیا دکلی نورونجونوتەسبقونەویل ٭ عاتکە هم‌پەپنځەکلنی‌کی د آمنی دزدەکوونکوپەدلەکی شاملە شوە .

څووختەوروستەآمنەدمحمدبن عبدالرحمن دشریک ژوندملگری شوە ، اولەڅومیاشتووروستەبیا محمدبن عبدالرحمن کومی سرحدی پوستی تەدجهادلپارە ولاړیوەورځ دهغە دتپی کیدو آوازەکلی تەراغلی وە اوبیاآمنەدهغەدخدمت لپارەورغلە دغە وخت دوی تەخدای (ج) یوزوی "منصور"هم وکړی وٴ .

حامدبن زهرەخپل وفادارنوکر جعفراودهغەمیرمن زبیدەدلور کورتە واستول اومنصوریی هغەتەوسپارە ،منصوردری کالو وٴچی یوە ورځ کلی تەخبرراغی چی محمدبن عبدالرحمن او میرمن یی آمنە دواړەشهیدان شویدی دهغی لەشهادت نە وروستە حامدبن زهرە اوسعیدکلی تەراغلل هغوی‌منصورلە ځانە سرە کورتەنیولو خودعاتکی مورغناړەدمنصورپالنەپە خپلە غاړە واخیستە کلەکلەبەسعیددعاتکی کورتەدمنصور لپارە راتە اوخپل خوریی بەیی لیدە ،دمحمدبن عبدالرحمن ځمکە اوباغونە دهغی نوکرجعفرتە وسپارل شول اوپەکورکی یی هم جعفراوزبیدە اوسیدل دعاتکی پەذهن کی تیری خاطری یوە پربلە پسی راژوندی شوی اوهغەپرخپلوتیروتولوخوږو اوترخوپیښورا وگرځیدلە ....

دعاتکی پلارنصیربن عبدالملک یوزورمجاهدا ودیوی دلی مجاهدینومشروٴ ، هغە تەیووخت دکلی نەپاس دالفجارەاو غرناطی ترمنځ دلاری ساتلووظیفە وسپارل شوە ، نصیر د غرنیوسیموپەخلکوکی دحجاد جذبی راژوندی کولولپارەدحامدبن زهرە خدمت تە دیراړشواوبیا یی لەهغەنەوعوبنتل چی لەده سرە غربی سیمی تەولاړشی اوهغەهم سمدستی ورسرەولاړ سعید دهغوڕضاکارانوپە دلەکی و چی لەدغی لاری بەیی غرناطی تە خوراکی شیان رسول عاتکی تەسیا هغەوخت وریەیادشوچی کاکا یی هاشم‌دحامدبن زهرە

دآس جلب سیولی وٴ پەزرکوسوخلکودهغەمرسی وٴ ... او ځولحظی وروستە حامدبن زهرە داسی حادویی حبری وکړی چی دهرچا پەسترکوکی اوبکی دندشوی ....

اوبیا هغەوخت وریەیادشوچی عاتکی دآس ځغلول ،غیشی ویشتل اوتوری وهل زدەکول ، هغەبەهروخت لەسعیدسرەدآس ځغلول لوبی کولی .

هغی تە وریەیادشول چی دکاکازوی یی عمیر لەسعیدسرەنە پریښودلەچی لوبی وکړی اویوەورځ یی سعیدپەڅپروهلی وٴ .

کلەچی دشمال لەحاطلحیزوڅمکوویجاړولووروستەدفردینا ند لښکری دغرناطی پەمح کی لنکرواچاوە نودنصیردندلاریاتە مهمەشوە ،دښمن ځوځلی دهغە پوښتی پرسرلوړوڅوکودنیولو هڅە وکړە خولەسختی ماتی سرە بەمخامخ شوا وبیا عاتکی ، تە هغەورځ پەیادشوەچی دښمن پرکلایرغل راووړا وهغی پە داسی حال کی چی خپل مخ اوویښتان یی پټ کړی ووددښمن پەوړاندی دیرەزړورتیا وښودەاودیرکسان یی پەغشوا وتورو دمرگ پەخوب ویدە کړی وو، لەهغی ورځی راوروستەعاتکە د" غرناطی لور" پەنوم پەشاوخوا کلیوا وپوستوکی مشهورە شوە نصیردخپلی لورپەجرئت اوشجاعت دیرویاړکاوەاوپەدی پورە باوروٴ چی هغەدهردول دښمن مقابلە کولی شی .

اوبیا هغەورځ هم راغلەچی دغرناطی پرشاوخوا ددښمن دمحاصری کړی تنگە شوە هغە تەلەغرناطی نە دعتبە پەمشری شل تنە پیادە اواتە تنەسپارە پوځیان دمرستی لپارەراغلل عتبە چی شنی سترگی اوسرەږیرەدرلودەلەڅومودی وروستە دنصیرپام دځان پەلوری واړاوەاوبیا هغە دپنځوسو سپاهیانومشروتاکل شو ، پەکلاکی دهغەپە باب دا مشهورەوەچی هغە یوازی قوماندی اوریدلوا وقوماندی ورکولوتەتیاردی اوپرشوندویی خندا هیڅکلە نەلیدل کیږی .

یوەورځ عاتکە پەآس سپرەشوەلەکلانە دری میلە لری یی ولیدل چی عتبە پەدیرە توندی آس ورپسی ځغلوی ،هغی خپل آس لە لاری چپ کړاوعتبەتەیی لارپریښودەخوناڅاپەعتبەدهغە مخی تە آس ودراوە هغی تەیی وکتل ښایی سترگی بکتبە واچولی اوویی ویل :

ښځنە غوارم ، دازماگستاخی ونەگڼی دکلادساتونکی لورباید دامنیت لەتیولوپرتە دومرە لری رانشی،لەخطرنەساخبرول زماوظیفە دەکەڅەهم دکلاجنوب لوری څەناڅە پەامن کی دی خوبیا هم ستاسرە بایدساتونکی وی .

عاتکی اځواب ورکړ :

تاسوزماپە باب اندیښنەمەکوی، زەدیرە لری نەتلم‌اوتە چی ماتە کومەمشورەراکوی هغە تاتەهم‌بایی چی عملی یی کړی .

عتبە : زەستاپەمطلب ونەپوهیدم .

عاتکە : زمامطلب دادی چی‌ژتەدپوځ یومنصبداری دځان ساتنی فکرلەتاسرە هم بایی .

عتبە وویل : مابەهیڅ وخت عامل ونەوینی همدااوس ځلور ساتونکی لەماسرە دی دوە عتی وشتونکی می بنی حوانبە یەکندوکی اودوە مخامخ دعوندی پرسردی خوکەماسراسیا ن ونیسی هم‌دزندان سختی زعملی شم،خوتاتەبایی نەوی معلومم چی هغوی لەبنځوسرەڅەدول رویەکوی، تەدیوە زړورپلارلوریی اوماستادزړورتیاپەباب هم دیرڅەاوریدلی خوکەبدە نەد ر

باڼدي لګيږي زه په کلاکي هم ستا استوګنه لازمه نه وينم زه
ستا لپاره کلي ښه بولم که اجازه راکوې چې پلار ته دې ووايم
چې کلي ته دې واستوي .
نه نه، زما د پلار پرېشاني ته ضرورت نشته زه وعده کوم چې تور
به پام کــــوم .
عتبه : ما ته له تا سره د پاتې کېدو اجازه ده .
هغه په ډېره بې حيايي عا تکې ته کتل خو د عا تکې په ځيره کــې

دغوسې ځپې را وپا ريدې د خپل اس جلب يې را وګرځا وه او ويـــې
ويـــل :
نه ته خپل کار کوه ، بيا د هغه آس له هوا سره خبرې کولې . او عتبه
ته يې بيا د خبرو کولو موکه ورنه کړه هغه نيغه کلاته را غله او کله
به چې هغه له کوره را وتله دا يې حس کړه چې د شنو سترګوا وســـرو
وينبتا نو ځښتن يې هر وخت له کوم کونج نه څـــا ري .
(دوام لـــري) ;

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

افغانستان په تيره عيسوي مياشت کې

محمو پيښو ته يوه کتنـــه :

په تيره عيسوي مياشت کې د محمو پيښو په مينځ کې يوه پيښه تر ټولو د مخه
نظر ځا نته ا ړوي ، چې هغه د مجاهدينو په موقتي حکومت کې د حزب اسلامـــي
افغانستا ن د غړيتوب په تعليق کې لويدل دي حزب اسلامي افغانستا ن
پريکړه وکړه چې وروسته له دې به د حکومت د کابينې په غونډو کې برخـــه
وانخلـــي .
که چا دا فغانستا ن جها دسياسي پېښې اوو قايع په غور سره کتلې اوڅېړلې
وي دا پېښه به ورته عجيبه ښکا ره نه شي . د ډول ډول اتحادونو د ناکا مېدلو
او د هغو څخه د ترخو تجربو د اخيستلو وروسته حزب اسلامي ، فيصله وکړه چې نور
به په هغه اتحا دا و شورا کې هيڅکله برخه نه اخلي کوم چې د تناوې پر اساس يې
شکل نيولی وي او غير منتخب وي . په تيره لسيزه کې او زموږ د مجا هد ملـــت
د مبا رزې په اوږدو کې کله چې يو اتحا د مينځ ته را غلی، خلکو دا ميد په سترګه
ورته کتلي، هغه يې استقبا ل کړی خو د څه مودې د تېرېدلو وروسته وا تحـــا د
ما ت او يو بل تنظيم تر ی زيږيدلی دی او د ملت پر بدبختيو بو ه بله بدبختـــي
اضافه شوې ده . د حزب اسلامي او جمعيت اسلامي دا تحا د د ما تېدو نتيجــــه د
حرکت انقلاب اسلامي زيږيدل وو ، وروستی اتحا د بيا دا تحا د اسلامي تنظيم
وزيږا و چې مشري يې استا د سيا ف دی او په هغه پسې بل اتحا د ځينې رنځوری
او ضعيفې ډلګۍ وزيږولې چې اوس ځا ن د آزا دوا و مستقلو تنظيمونو پـــــه

نا مه یا دوی .

واقعا " دا یو ناکا مه تجربه‌وه ،اوحزب دا تحا ددپا ره‌نوی او معقولـه
طرح وړا ندی کړ چی هغه‌دمتنا سبی نما یندگی طرح وه ، دنوموړی طرحـی
په‌ا سا س هرتنظیم په‌جها دکی دخپل رول اوبرخی په‌تنا سب با یدپه‌شـور ی
کی ا ستا زی ولـــری .

په‌همدی جریا ن کی روسی یرغلگردهیوا دنه‌په‌تیښته مجبورشول اولـــه
افغا نستا ن څخه ووتل .

دلته دسیا سی خلا دنه‌پیداکیدلودپا ره‌با ید دمجا هدینوعبوری حکومـــت
جوړشوی وا ی، دا یوضروړت و، ،خودا حکومت به‌څنگه تشکیل کیدلو ؟ددیـــرو
بحثونوا وشخړووروسته دمشورتی شوری په‌جوړیدوتوا فق وشو ،بیا په مشورتی
شوری کی دتنظیمونوترمینځ دیودول انتخا با توپریکړه‌وشوه حـــــزب
نه‌غوښتل دخپلوا صولونه‌سرغړونه‌وکړی اوبیا دتسا وی پربنسټ جوړه‌شـوی
شوری ومنی، خوقسمونه‌وخوړل شول، تضمینونه‌ورکړل شول اودتولونـــه
مهمـــه دا ده چی دملت اوجها ددسرنوشت سوا ل په‌مینځ کی و، ،له‌همـــدی
املـه حزب له‌دی طرحی سره موا فقه وکړه خوپه‌دی شرط چی دشپږومیا شتو
په‌ا وږدوکی با یدا نتخا با ت وشی اوا نتخا بی شوری جوړه‌شی، بیــــا دا
ا نتخا بی شوری به‌یا فعلی حکومت ته دا عتما درا ، یه ورکوی اویا به‌بـــل
حکومت ټاکی . دروا ن کا ل دا گسټ په‌نیما یی کی هغه‌موده سرته‌ورسیده
چی دا نتخا با تودترسره‌کیدلودپا ره‌منل شوی وه .متا ٔ سفا نه‌نه‌ا نتخا با ت
وشول اونه‌حتی دا نتخا با تودپا ره دتیا ری نیولونښی نښا نی لیدلکیدلی
حزب ا سلامی څوځلی خبردا ری ورکړچی دحکومت عمرپا ی ته‌رسیږی او
ا نتخا با ت با یدوشی، چا پا ملرنه‌ونه‌کړه ، له‌بلی خوا حکومت اوچا رویـــی
دا سی مسخره شکل ځا نته نیولی و، چی مشرپی(مجددی) په‌را دیوگا نوکی د
حکومت دبیوا ځینی مصمم اوقوی مؤ ید (حزب ا سلامی) اودهغه‌دا میرځخـــه
دشکا یتونونا رې سوری پورته‌کړی وی، کله‌چی دمجا هدینوموقت‌حکومـــت
جوړشو ، دا دحزب ا سلامی اودهغه‌دا میرچی په‌حکومت کی یی دبهرنیوچا ر و
دوزیرونده‌درلوده‌دفعا لیتونونتیجه‌وه‌چی حکومت په‌بین ا لمللی سطـــح
وزن پیدا کړا وپرمختگ یی وکړ ، خودمشورتی شورا دپریکړونه‌سرغړونـــه
چی په‌سرکی یی دا نتخا با تومسئله‌وه ، ا وهره‌ورځ دعهدونوما تول اودبـــی
با وری فضا جوړول دحکومت په‌مینځ کی بوپا لل اوبل تکول هغه‌هم‌پـــــه
با زا ری سطح،دا هغه‌عوا مل ووچی حزب یی ددی تصمیم‌نیولوته‌ا ړکړترڅـــو
خپل عضویت په‌حکومت کی معلق کړی .ا وداهم روښا نه ده‌چی پرته‌دحـــر ب
دملاتړنه‌به‌دا حکومت دا سی یوه‌نا قصه‌دستگا ه وی چی موجودیت به‌یی صرف
دکا غذپه‌مخ اودرا دیوگا نوپه‌څپوکی احسا س کیدلی شی اودا ضعف‌ا ونقـــص
به‌سبب شی چی هغه‌خطرنا ک میکروبونه‌چی دا لس ،یوولس کا له‌په‌کمین کـــی
وودی ضعیف وجود ته‌نتوځی اودویجا ړیدوا مکا نا ت یی برا برکړی،ا ودد ی
وضعی مسوول به‌هغه څوک وی چی دمشورتی شوری دپریکړومخا لفت کوی

تولونکي اوليکونکي :
عوض الدين "صديقي"

دشفق مجلي گرانولوستونکو !

په لاندينوکرښوکي به تاسو دافغانستان په باب دهغوسياسي جريانا تو نيته پېښي راټول شوي مطالب ولولئ کوم چې دروان عيسوي کال داگست په مياشت کې پېښ شوي اوتاسو يې ځلورمه برخه دشفق په تيره گڼه کې ولوستله هيله من يم چې د استفادې اوخوښي ور موده گرځي .

اگست :

۱۱ اگست ۱۰زمري : دکابل گوداگي رژيم ديوې اعلاميې په ترڅ کې چې دکابل راډيوله خوا خپره شوې وه وار بيا دښې د لسو بجوڅخه دسهار ترڅلورو بجو پورې دشپې پرکرځېدو راگرځېدو باندې دبنديز اعلان وکړ .

۱ اگست ــ ۱۰ زمري : دمجاهدينو عبوري حکومت په ستاکهولم کې ددوو ستر و قدرتونوترمنځ دافغانستان مسئلې په باب دخبرو دپيل کيدوله امله يوه اعلاميه خپره کړه چې په کښې راغلي وو : موږچاته داحق نه ورکوو چې زموږ دراتلونکي په باب فيصله وکړي اعلاميې کې داهم راغلي وو : دافغانستان دراتلونکي فيصله يواځې مجاهدين کولی شي .

۲ اگست ــ ۱۱زمري : دجمعيت اسلامي مشر اودعبوري حکومت دبيا آباديو وزير په اسلام آباد کې د"انسټيټوټ آف سټرټجيک سټډيز" له خوا جوړې شوې غونډې ته په وينا کې وويل : دافغانستان دبيا آبادولپاره يوه اوږده منظمه برنامه جوړه شوې هغه وويل : په دې برنامې باندې دعمل کولو په لاره کې به بهرنيو هيوادو باندې بروسه ونشي .

۲ اگست ــ ۱۱ زمري : معتبرو خبري سرچينو رپوټ ورکړچې دکابل امنيت بيا روسانو په لاس کې اخيستی رپوټ ليکلي تيره ورځ دکابل رژيم ددې په خاطر د شپې بنديز اعلان کړچې داروسي عسکر چې په فارسي ژبه خبري کوي اودشپې له خوا دکابل امنيت ساتل ددوی په غاړه وي دچا له خوا و نه ليدل شي او نه وپيژندل شي .

۳ اگست ــ ۱۲ زمري : باوري سرچينو رپوټ ورکړ چې د جلال آباد په ښار کې هغو ښځوچې زامن يې په زور جنگ ته ليږل شوي اودوی يې دژوندا ومرگ په باب معلومات نه لري مظاهره وکړه اودنجيب گوداگي رژيم څخه يې وغوښتل چې ددوی زامن آزادکړي .

۳ اگست ــ ۱۲ زمري : دعبوري حکومت لپاره دامريکا خاص استازی ټامسن په امريکاکې ديوې وينا په ترڅ کې وويل : مجاهدين دومره قوي دي چې اصلا" په راتلونکي حکومت کې نجيب ته دځای ورکولو پوښتنه نه پيداکيږي .

۳ اگست ــ ۱۲ زمري : په ستاکهولم کې ددوولويو قدرتونوترمنځ دافغانستان ــ مسئلې په باب خبرې بې نتيجې پای ته ورسيدې .

۴ اگست ــ ۱۳ زمري : دسعودي عربستان مشرشهزاده سعودالفيصل دملگرو ملتو دعمومي منشي په نوم يو ليک وليږه چې په کې راغلي وو : موږ به افغانيمهاجرينو سره خپلو مرستوته دوام ورکړو په ليک کې داهم راغلي وو :دمجاهدينو هلې ځلې برحقه دي .

۴ اگست ــ ۱۳ زمري :باوري سرچينو رپوټ ورکړچې مجاهدينو ديامیان په ولايت کې دهغو ځلورسووشهيدانو جسدونه پيداکړي چې دتره کي په وخت کې وژل شوي وو اوبيا ورباندې خاوري اچول شوې وې .

۴ اگست ــ ۱۳ زمري:دملگرو ملتو دعمومي منشي يو ويندوی خبريالانوته وويل: داوسنيو حالاتو په ليدلوسره دافغانستان مسئلې دسياسي حل ضرورت ليدل کيږي .

۵ اگست ــ ۱۴ زمري : دکابل په ښارکې ددښمن پرپوځي مراکزوباندې دمجاهدينو لری ويشتونکي توغندي ولگيدل چې د هغو له امله دښمن ته زيات تاوان ورواوښت .

۵ اگست ــ ۱۴زمري : وروررحکمتيار دحزب اسلامي امير اودعبوري حکومت دبهرنيو چاروو زيردافغانستان داخل ته تر (۳۰) ورځني سفروروسته راستون شوا وديوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وويل : دتخاردپيښې اصلي عاملين بايدمحاکمه شي هغه وويل : موږددې طرفدار يوچې هم مسعوداوهم سيدجمال پېښورته راوغوښتل شي اوهرڅوک چې ددې پيښواصلي مسئول وي هغه ته سزا ورکړل شي

۶ اگست ــ ۱۵ زمري : دروسيې دبهرنيو اچاروو زيرشواردنادزې ايران ته ترسفر وروسته کابل ته سفروکړ ترڅوگوداگي نجيب ته دراتلونکي په باب پروگرام ورکړي .

۶ اگست ــ ۱۵ زمري : دشوردنادزې د راتگ په وخت دکابل ښارددفاع وزارت دارالامان قصراوکانتيننټال هوټل دمجاهدينو په لری ويشتونکوتوغندیوولگيد چې زيات مالي اوځاني تاوان يې ورورسا وه خودقيق شميريې معلوم نه دي .

۶ اگست ــ ۱۵ زمري : په وروستيو کې دحزب اسلامي له خوا دانقلاب روانوحالاتو باندې درڼا اچولوپه خاطر يوه غونډه جوړه شوه غونډې ته وروررحکمتيا روينا وکړه اوزيات يې کړه :

۷ اگست ــ ۱۶ زمري : دپاکستان دخيبر ايجنسي قبائلي سيمي يوه مشرسيف الله شينواري ديوې وينا په ترڅ کې وويل : که مجاهدين زموږدتجارت لپاره دجلال آباد لاره خلاصه نه کړي موږبه پرېنږدو چې مجاهدين زموږله سيموتيرشي .

۸ اگست ــ ۱۷ زمري : دکندهار په ولايت کې دمجاهدملي قوماندان "حاجي لطيف" ته چا زهرورکړل اوترشل ساعتونې ورسته ددې په حق ورسيد .

۸ اگست ــ ۱۷ زمري : دکابل ښار پرنظامي مرکزونوا وکانټيننټال هوټل باندې دمجاهدينو توغندي ولگيدل چې د هغوله امله کمونستانوته مالي اوځاني تاوان ورواوښت .

۹ اگست ــ ۱۸ زمري : د"حاجي لطيف" زوی دکندهار ولايت څخه کويټې ته يو ليک راوليږو چې په کې راغلي وو : دحاجي لطيف قاتلان دهغه دوه باډي گارډان وو چې دکابل رژيم څخه يې څو مليونه روپۍ اخيستي وې تر څوداکاروکړي هغوی ونيول شول اوتر اعتراف وروسته محاکمه او اعدام شول .

۹ اگست ــ ۱۸ زمري : دمجاهدينو د عبوري حکومت ددفاع وزيردعلماؤ يوې غونډې ته په وينا کې وويل : مجاهدين په خپلو مينځو کې ديوې کورنۍ حيثيت لري، بايد خپل منځي جگړوته تشويق نشي .

۱۰ اگست ــ ۱۹ زمري : باوري سرچينو رپوټ ورکړچې امريکا په پاکستان کې د خپل سفارت يو پخواني غړي چې دافغانستان چاروپلټونکي وو دگينوسياسي هلوځلو اواختلافونو په وجه دخپلې دندې استعفی کړې او امريکا ته تې غوښتنې دی رپوټ ولي: هغه دافغانستان مسئلې په باب دامريکا وستنی پاليسي سره څه اختلافونه لرل .

۱۰ اگست ــ ۱۹ زمري : په باجوړ کې د جماعت الدعوه سنت والقرآن گوند په دفترکې يو بم وچاودید چې زيات مالي تاوان يې ورواړاوه .

۱۰ اگست ــ ۱۹ زمري : دپاکستان دبهرنيو چارو وزير صاحبزاده يعقوب خان په پېښورکې دعبوري حکومت دصدراعظم (سياف) بهرنيو چاروو زير (حکمتيار) ددفاع وزير (مولوی محمدنبي) دکورنيو چاروو زير (يونس خالص) او ستر و محکمې

مشر (گیلانی) سره وکتل او دافغانستان مسئلې درواړو خواوو لخوا په باب یې ورسره خبرې وکړې.

۱۱ اگست – ۲۰ زمری: دافغاني مهاجرینو سره دانساني مرستو یوې ډلې چې دتعلیم او تربیې په ځانګه کې کارکوي دیوې وینا په ترڅ کې وویل: افغانستان کې ژوبا نو تعلیمي نظام بیخي له منځه وړی او په هغوی باندې وچ روسي تعلیمي نظام سلط لري.

۱۲ اگست – ۲۱ زمری: په ایران کې دجمعیت اسلامي او اته گوني اتحاد دهیئت ترمنځ خبرې وشوې او دهغې په ترڅ کې دجمعیت نماینده دوروور حکمتیار دا دریځ چې ایران باید دافغانستان په کورنیو چاروکې مداخله ونه کړي وغانده.

۱۲ اگست – ۲۱ زمری: دکورمې ایجنسۍ دمدې سیمې څخه لس کیلو متره لرې د "جالندر" په کلي کې دکابل رژیم پیسو بویکه توغندي ولگیدې چې څوکورونه یې ویجاړ کړل.

۱۲ اگست – ۲۲ زمری: باوري خبرې سرچینو پوت ورکړچې روسانو نوی مادل توغندي دکابل رژیم ته ورکړي ترڅو د مجاهدینو پر ضدیې استعمال کړي.

۱۵ اگست – ۲۴ زمری: دمجاهدینو عبوري حکومت یوا ته کسیزه هیئت وټاکه ترڅو د تخارد فرخار تنګي دهغې پیښې په باب پلټنې وکړي چې دحزب او جمعیت مجاهدینو ترمنځ پېښه شوې وه.

۱۵ اگست – ۲۴ زمری: دکابل ښار پر هوايي ډگرباندې دمجاهدینو له خوا د توغندیو یوه درنه حمله وشوه چې دهغې له امله دالوتکو الوتنې وځنډولې شوې.

۱۷ اگست – ۲۶ زمری: دپاکستان دبهرنیو چاروو زیر ما حبزاده یعقوب خان ایران ته سفر وکړ ترڅو دایراني مقاماتو سره د افغانستان مسئلې په باب خبرې وکړي – هغه 'داسلام آباد په هوايي ډگرکې خبریالانو ته وویل: دایراني مقاماتو سره دسیمې او افغانستان مسئلې په هکله خبرې کوي.

۱۷ اگست – ۲۶ زمری: دروسیې دبهرنیو چاروو زیر شوردناد زي په ماسکوکې د ایران سفیر سره دافغانستان مسئلې په باب خبرې وکړې.

۱۸ اگست – ۲۷ زمری: دکابل پر ښار باندې دمجاهدینو لري ویشتونکي توغندي ولگیدل چې دهغې له امله ددښمن او ه تنه صاحب منصبان ووژل شول.

۱۸ اگست – ۲۷ زمری: په ایران کې د میشته اته گوني اتحاد دپوري اړوند یو گوند چرکت اسلامي مشر شیخ آصف محسني د "بي بي سي" سره په مرکه کې وویل: که عبوري حکومت ته پراخېږي نو دافغانستان په باب دې یونړیوال کنفرانس را وبلل شي ترڅو دا مسئله حل کړي.

۱۹ اگست – ۲۸ زمری: دکابل رژیم اعلان وکړچې یو تن فرانسوی ژورنالست یې دهلمند په ولایت کې نیولی خو فرانسوي مقاماتو په دې باب وویل: ښايي دا هغه فرانسوي مرستندوی وي چې تیې مجاهدینو ته پټې جوړوي.

۱۹ اگست – ۲۸ زمری: دعبوري حکومت دارشاد عامه وزارت په چوکاټ کې ینو مطبوعاتي مرکز پرانستل شو دارشاد عامې وزیر "نجیب الله لفرائي "دمرکز د پرانستو په غونډه کې وویل: د "افغان نیوز ایجنسۍ "او "لبنیان مرصوص" آژانسونه په دې مرکز کې منحل شوې او د "افغان میډیا سنټر" لپاره هم هلې ځلې روانې دي چې ښايي په دې ورځو کې ددې مرکز سره یو ځای شي.

۲۰ اگست – ۲۹ زمری: دکابل دگوډاگي رژیم دګارد عمومي قوماندان "فاروق ظریف" دمجاهدینو سره یوځای شو هغه په ملگرو ملتو کې دکابل دپخواني سفیر "فریدظریف" ورور دی.

۲۰ اگست ۲۹ زمری: دکابل ښار پر نظامي مرکزونو دمجاهدینو لري ویشتونکي توغندي ولگیدل چې دهغې په ترڅ کې نوی دول توغندي هم وو چې په هواکې چوي او بیا دیرش نمونه خوشې کوي.

۲۱ اگست – ۳۰ زمری: وروور حکمتیار دیوې وینا په ترڅ کې دخپلو ټولو قوماندانانو وغوښتل چې هیڅ بهرني ژورنالست، مرستندوی، ډاکټرا و .... ته دافغانستان داخل ته دحزب دا جازې پرته ددا خلیدو اجازه ورنکړي هغه وویل: دا بهرني اتباع دمجاهدینو په منځ کې لساني، مذهبي او سیمه ایزې شخړې پیدا کوي.

۲۲ اگست – ۳۱ زمری: دکابل دگوډاگي رژیم مشر "نجیب "دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې دافغانستان مسئلې دحل لپاره یونوی وړاندیز وړاندې کړ هغه وویل: باید دشپږو میاشتو لپاره اوربند اعلان شي او په همدې موده کې دانتخاباتو داجراء او اساسي قانون دتصویب لپاره زمینه مساعده شي.

۲۲ اگست ـ ۳۱ زمری: مولوي یونس خالص دعبوري حکومت دکورنیو چاروو زیر دمهمندا وباجوړا یجنسۍ له مشرانو سره دلیدنې په ترڅ کې وویل: موږ فیصله کړې چې دخپل حزب ټولې اداري په عبوري حکومت کې منحل کړو او دا اعلان به په څوورځوکې وکړو.

۲۲ اگست – ۳۱ زمری: دامریکا دسنا دبهرنیو چارود کمیټې غړي "کلیون پیل" په ناصرباغ کې دمهاجرینو یوې غونډې ته په وینا کې وویل: امریکا به دافغانستان ترکاملې آزادۍ پورې مجاهدینو او مهاجرینو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

۲۳ اگست – ۱ وږی: دمولوي خالص دا سلامي حزب مرستیال حاجي دین محمد دیوې مرکې په ترڅ کې وویل: تقریباً شپږمیاشتې کیږي چې مجاهدینو ته وسله نه ده ورکړ شوې.

۲۳ اگست – ۱ وږی: دکابل ښار پر هوايي ډگرباندې دمجاهدینو توغندي ولگیدل چې دهغې له امله ددښمن لس تنه پوځیان ووژل شول او زیات شمیر ټپیان شول.

۲۳ اگست – ۱ وږی: فاروق ظریف د. کابل دگوډاګي رژیم دګارد قوماندان چې څوورځې دمخه مجاهدینو ته تسلیم شوی وو دعبوري حکومت دصدراعظم استاد سیاف سره ولیدل او ددې لیدنې په ترڅ کې یې اتلس ملیونه دالره روپۍ عبوري حکومت ته ورکړې.

۲۴ اگست – ۲ وږی: مولوي خالص د عبوري حکومت د کورنیو چاروو زیر دیو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې دخپلو ټولو صحي، تعلیمي او نظامي ادارو منحلیدل په عبوري حکومت کې اعلان کړل هغه په دې ترڅ کې دنورو گوندونو څخه هم وغوښتل چې دې کار ته اقدام وکړي ترڅو له دې لارې یو واحد قوت منځ ته راشي.

۲۴ اگست – ۲ وږی: دعبوري حکومت مشر ،مجددي، صدراعظم استاد سیاف دیباپا دولو وزیر ربانی، دکورنیو چاروو زیر خالص دامریکا دسنا دبهرنیو چاروکمیټې غړي "یورن کلیزپیل" سره ولیدل او د افغانستان مسئلې درواړو خواوو لخوا په باب یې ورسره خبرې وکړې.

۲۴ اگست ۲ وږی دکابل دښار او خوا سیمو مجاهدینو او قوماندانانو دکابل رژیم داتور ډگر چې گواکې مجاهدینو پر ښار باندې داسې توغندي استعمال کړي چې په هواکې چوي او دیرش نمونه خوشې کوي.

۲۴ اگست – ۲ وږی: دکابل گوډاګي رژیم دپاکستان دشمالي وزیرستان د

"پاوني" پرکلي باندې بمباري وکړه چې دسيمې خلکوته يې مالي تاوان ورواړاوه .

۲۵ اګست – ۳ وړی : دجمعيت سرچينو رپوټ ورکړچې په تخارکې دشوراى نظار مجاهدينو "سيدجمال "، څوک چې څوورځې مخکې دشوراى نظار ځينې قوماندانان وژلي وې نيولی .دا خبره دجمعيت اسلامي دسياسي چارورئيس دبي بي سي راډيو سره په مرکه کې تائيدکړه.

۲۵ اګست ۳ وړی: باوري سرچينورپوټ ورکړچې ملګروملتودافغانستان مسئلې دسياسي حل لپاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړی،رپوټ ويلې په همدې خاطرڅوورځې دمخه دملګروملتواستازی دمجاهدينو مشرانوسره ترليدلووروسته ايران ته سفروکړا ودايراني مقاماتوسره يې وليدل .

۲۵ اګست – ۳ وړی : دکابل دګوډاګي رژيم دبهرنيوچاروو وزير " وکيل "دملګروملتودعمومي منشي کوئيار په نوم يو ليک وليږلو چې په کې دامريکا اوپاکستان څخه شکايت شوي وې چې مجاهدينوته بې نوي اومدرني وسلې ورکوي .

۲۶ اګست – ۴ وړی :باوري سرچينورپوټ ورکړچې دافغانستان مسئله به دنا پيلو هيوادونوپه کنفرانس کې مطرح شي رپوټ زياته کړی : دملګروملتو مشرکوئيار به هم په دې کنفرانس کې دکابل رژيم اوپاکستان له وفدونوسره وګوري .

۲۶ اګست – ۴ وړی :دپاکستان دجنرال د"ګوشت " او"توال "په سيمه کې دکابل رژيم دوه سکډتوغندي ولګيدل چې زيات مالي تاوان يې دسيمې خلکوته ورساوه .

۲۷ اګست – ۵ وړی: باوري سرچينورپوټ ورکړچې "انساني فلاحي تنظيم"دهغه فرانسوي مرستندوى دخلاصون په خاطريو څلورکسيزه هيئت کابل ته وليږه کوم چې څوورځې مخکې دکابل رژيم له خوا د هلمندپه ولايت کې نيول شوى وې .

۲۷ اګست – ۵.وړی : "فاراينترن اکنامک " خپروني رپوټ ورکړچې پاکستاني مقاماتودافغانستان مسئلې په باب خپلې اوسنی پاليسي کې دتجديدکولو امرورکړی رپوټ ليکلي:بوټوا وجمهور رئيس په دې نظردی چې مجاهدينوته وخت ورکړی شي ترڅو دجنګ په ډګرکې دکابل رژيم ته ماته ورکړی رپوټ زياته کړی . دامريکادکانګريس هغه غړی چې دپاکستان څخه يې ليدنه کړی وه امريکا يي مقاماتو ته دجنرال ضياء الحق ترشهادت وروسته دپاکستاني اوسنی پاليسي څخه شکايت کړی .

۲۷ اګست – ۵ وړی : د پيښورپه جناح پارک کې دجمهوری اسلامي اتحاددرهبری مقاماتويوى درنې غونډې ته دوينا په ترځ کې دمجاهدينوڅخه پرخپل ملاتړ ټينګارو کړ .

۲۸ اګست – ۶ وړی: باوري سرچينو رپوټ ورکړچې روسانو په دې وروستيوکې ترپنځوسوزياتوسکډتوغندي ،ټانکونه اونورنظامي مهمات دکابل رژيم ته ورکړی .

۲۸ اګست – ۶ وړی : دمجاهدينودعبوري حکومت دبهرنيوچاروو زارت يوه نماينده عبدالهادي ارغنديوال په اسلام آبادکې دپاکستان حکومت ته دهغې مسافرو ونکي الوتکې په پيداکولوکې چې دګلګت څخه د اسلام آباد دپرلورپرواز کړی وې او څو ورځې کيږی ورکه شوی دمرستی اوهمکاري ورانديزوړاندې کړ .

۲۹ اګست – ۷ وړی: حزب اسلامي ديوی اعلاميې په ترځ کې عبوری حکومت کې خپل ګډون ترهغې وځنډاوه ترڅوچې عبوري حکومت دانتخاباتوپرطرحې عمل نه وی کړی ،اعلاميې زياته کړی، موږبه دپولو احزابوسره بنې اړيکې ساتومګر د حکومت دکابينوپه غونډوکې به ګډون ونه کړو .

۲۹ اګست – ۷ وړی: دمجاهدينودعبوری حکومت مشرمجددی دافغانستان سرحدی سيموته دعبوری حکومت ددفترونو دليدلوپه خاطرسفروکړ .

۲۹ اګست – ۷ وړی : دکابل ښارپر هوايي ډګرباندې دمجاهدينوڅوتوغندي ولګيدل چې دهغولوا مله دالوتکوپرواز وځنډول شو .

۳۰ اګست – ۸ وړی:دمجاهدينوسرچينو رپوټ ورکړچې دخوا ونيورا هيسې دخوست پرښاربا ندې مجاهدينودمحاصرې کړی تنګه کړی اوپه دې ورځوکې دهوايي ډګر دېرې مهمې پوستې فتحه شوی .

۳۰ اګست – ۸ وړی: دحزب اسلامي د سياسي چاروکميټې رئيس "عبدالقدير کرياب " بي بي سي" سره په مرکه کې وويل : موږيواځې په دې خاطردعبوری حکومت څخه موقتې جلا شوی يوچې دوی دانتخاباتوپرفيصلې عمل ونه کړ .خوکله هم چې پردې فيصلې عمل وکړی موږبه بيا په کبنې ګډون وکړوځکه داهغه حکومت دی چې موږخپله جوړکړی .

۳۰ اګست – ۸ وړی : دکابل ښارپرهوايي ډګراونوروپوځي مرکزونو باندې دمجاهدينوراکټونه ولګيدل چې دهغې له امله دښمن ته زيات مالي تاوان وروا وښت اودالوتکوپروازدڅوساعتونو لپاره وځنډول شو .

۳۱ اګست – ۹ وړی:دپاکستان صدراعظمې بې نظيربوټود "ګاردين" خپروني "سره په مرکه کې وويل :دمجاهدينودوډلو ترمنځ دښتولوا مله سخته په انديښنی کې يم خوددوی په خپل مينځې ماېلوکی دمداخلې اراده نه لرم هغې وويل : 'پاکستان نه غواړی مجاهدينوته دکار پروګرام ورکړی بلکې دا ددوی وظيفه ده چې په خپلو مينځوکې سره متحدوی خو زه دمصنوعي اتحادونوسره سخته مخالفه يم هغې زياته کړه :عبوری حکومت بايد خپله پاليسي روښانه کړی زه دعبوری حکومت له مشرڅخه غواړم چې هغه دې خپل پروګرام او پاليسي اعلان کړی .

۳۱ اګست – ۹ وړی: باوري سرچينو رپوټ ورکړچې دکابل ښارهوايي ډګر اودهغه شااوخوا پوستې دمجاهدينوترسختو حملولاندې دي اودی کاردنجيب رژيم سخت وارخطا کړی .



فقهي درسونه

الف : فقهي قواعد :

پنځه څلویښتمه قاعده : " اذا تعارض المانع والمقتضي یقدم المانع "

ترجمه : که مانع او مقتضي سره معارض واقع شول نو مانع مقدم کېدلی شي "

یعنې که په یو څیز کې دوه امره سره معارض شول چې یو ئې د عمل د اعتبار غوښتنه کوله او بل ئې د هغه عمل د عدم اعتبار نو پدې صورت کې مانع ته ترجیح ورکېدلی شي او مقتضي متوقف کولای شي .

مثالونه :

۱ – که راهن ورکوونکي د رهن اخیستونکي له اجازې پرته مرهونه پر چا خرڅه کړه نو هغه دا بیعه د رهن اخیستونکي په اجازې پورې موقوفه ده . دا ځکه چه مرهونه له دې وجې څخه چې راهن ورکوونکي ملکیت دی د بیعې د نافذ کېدو غوښتنه کوي ولې دا چې د رهن اخیستونکي حق ورپورې تړلی دی هغه في الحال د بیعې د نافذکېدو مانع دی ، بناءً پر مقتضي باندې مانع مقدم کېدلی شي ځکه که داسې ونه شي او موږ بیعه نافذه وګڼو نو هغه حبس به زائل شي کوم چې د رهن د مهمو احکامو څخه دی .

۲ – که د یو منزل پاس برخه د یو کس او لاندې برخه ئې د بل کس وه ، هیڅ یو ته د بل له اجازې پرته دا حق حاصل نه دی چې په خپل ملک کې داسې تصرف وکړي چې هغه بل ته زیان ورسوي ځکه د هغه بل کس د حق تعلق پدې باب کې د داسې تصرف کولو مانع دی .

سره له دې نه چه د یو چا له پاره د یو څیز مملوک کېدل هغه له پاره په هغه څیز کې د هر ډول تصرف د جواز او مشروعیت تقاضا کوي .

۳ – که چا په یو عقد سره خپل معلوم مال د نور داسې مال سره چې په فاحش جهالت سره مجهول و ، خرڅ کړ ، دا بیعه فاسده ګرځي ، دا ځکه چې د هغه د حال معلوم والی د بیعې د صحت غوښتنه کوي ولې په هغه بل مال کې فاحش جهالت د بیعې د صحت مانع دی . نو بناءً مانع مقدم کېدلی شي .

شپږ څلویښتمه قاعده : " التابع تابع "

ترجمه : تابع په هر صورت کې تابع وي .

یعنې هغه چه د یو څیز له پاره په وجود کې تابع وي په حکم کې نو هم د هغه له پاره تابع وي نو پر هغه باندې هماغه حکم مرتب کېږي کوم چه د متبوع له پاره ئې ثابت شوی دی .

مثالونه :

۱ – که چېرې یو داسې څاروی چې په خېټه کې ئې جنین (بچی) و ، خرڅ شو نو جنین په تبعي ډول باندې سره له دې نه چې د عقد په وخت کې ئې ذکر هم نه وي شوی په بیعه کې شاملېدلی شي .

۲ – که یو کس پر چا خپل باغ خرڅ کړ نو د هغې هغه میوه چې له عقد وروسته او مشتري ته د بیعې له سپارلو څخه مخکې تر لاسه کېدلی شي د مشتري ده ، ځکه هغه په وجود کې د بیعې تابع ده .

۳ – د مغصوبې (هغه چې په زور اخیستل شوې وي) زواید لکه د غصب شوې ګډې وړۍ او شیدې ، مغصوب منه (له چا څخه په زور اخیستل شوی) ته سپارل کېږي دا ځکه چې مغصوبه د هغه ملکیت دی او زواید په وجود کې د مغصوبې تابع دي .

اوه څلویښتمه قاعده : " التابع لایفرد بالحکم "

ترجمه : تابع په حکم سره نشي ځانګړی کېدای .

یعنې روا نه ده چې د یو څیز له پاره په وجود کې تابع ته د خپل متبوع د حکم نه بهر په ځانګړي حکم سره قایل شو ځکه چه د هغه د وجود په صورت کې هغه پورې ئې د متبوع حکم ملحق کېږي نو دا ممکنه نه ده چې په حکم سره جلا او ځانګړی وپېژندلی شي .

مثالونه :

۱ – هغه جنین چه د څاروي په ګېډه کې وي د مور څخه ئې جلا په ځانګړي ډول نشي خرڅېدلی .

۲ – د اوبه خوړلو او لارې تېرېدلو حق د ځمکې او لارې څخه په جلا او ځانګړي ډول نشي خرڅېدلی ځکه چې دا دواړه تابع دي او د خپل متبوع نه په حکم سره استقلال نشي تر لاسه کولای .

۳ – جنین ته هبه (یو څیز بخښل) نه ده جایز ځکه چې هغه په حکم سره نشي مستقل کېدی له دې قاعدې څخه څه مسائل استثناء شوي دي چې څو ته ئې په لاندې مثالونو کې اشاره کوو .

۱ – په معقول سبب سره جنین ته په مال باندې اقرار صحیح کېږي نو که جنین د اقرار له وخت څخه د شپږو میاشتو په کمه موده کې متولد شو د مقربه (اقرار ور باندې شوی مال) څښتن کېږي . مثلاً که یو چا اقرار وکړ چې پر ده باندې د جنین د هغه د وفات شوي پلار له درکه سل دیناره دي دا اقرار صحیح کېږي .

۲ – جنین ته د پلار په متروکه مال کې د میراث حق ثابتېږي خو پدې شرط چې ژوندی متولد شي .

۳ – جنین ته وصیت صحیح کېږي که یو چا جنین ته په یو څیز سره وصیت وکړ او هغه د وصیت له وخت څخه د شپږو میاشتو په کمه موده کې متولد شو . د موصی به (ور باندې د وصیت کړی شوی څیز) مالک کېږي .

۴ – د کفیل ابراء صحیح کېږي نه د اصیل ، سره له دې چې کفاله د اصل دین تابع ده .

۵ – رهن اخیستونکی کولی شي چې د رهن د حبس حق ساقط کړي سره له دې چې د حبس حق د رهن تابع دی .

اته څلویښتمه قاعده : "من ملک شیئاً ملک ماهو من ضروراته"

ترجمه : "څوک چې د یو څیز مالک شو د هغه د ضروریاتو هم مالک کېږي" یعنې د یو څیز مالک د هغه څه هم مالک کېږي کوم چې له هغه نه په ګټې اخیستلو کې هغه ته د ضروریه امورو څخه بللی شي .

مثالونه :

۱ – که یو چا کور واخیست نو د هغې خاصې لارې کومه چې دې کور ته رسېږي هم مالک کېږي . دا ځکه چې د کور لاره ضروري ده او پرته د لارې څخه د کور نه کومه ګټه نشي اخیستل کېدای .

۲ – څوک چې د یو میداني ځمکې مالک شو نو د هغې د ښالاڼې هم مالک کېږي ځکه چې هغه ئې د ضروریاتو څخه ده .

۳ – څوک چې د یو کور مالک شو نو د هغې د ضروریاتو لکه آشپزخانه ، تشناب او داسې نورو مالک کېږي .

۴ – که یو چا قلف واخیست نو د هغې د کلي هم مالک کېږي ، ځکه چې بې له کلي قلف نه ګټه نشي اخیستل کېدای .

۵ – که یو چا د شیدو په منظور غوا واخیستله نو په بیعه کې ئې خوسی هم شامل کېږي ځکه که داسې ونه شي نو مشتري ته به د دې امکان په لاس ورنه شي چې د خپلې اخیستل شوې غوا څخه ګټه واخلي .

نه څلویښتمه قاعده : "اذا سقط الاصل

سقط الفرع " .

ترجمه: کله چې اصل ساقط شي نو فرعه هم ساقط کیږي تابع د متبوع په سقوط سره ساقط کیږي .

مثالونه :

۱ ــ که دائن (پور ورکوونکی) اصیل (پوروړی ته) ابراء وکړه نو کفیل د ضمانت کوونکی هم بری کیږي. دا ځکه چې د کفیل ذمې الزام د اصیل د ذمې الزام ته فرعه او دهغې تابع ده .

۲ ــ که موکل وفات او یا لیونی شو نو وکیل ئې عزل کیږي دا ځکه چې د وکیل تصرف د موکل د تصرف ته فرعه دی نو کله چې د موکل تصرف ساقط شو د وکیل تصرف هم ساقط شو .

۳ ــ که بیعه د بائع د لاس کې هلاکه شوه نو له مشتري نه ثمن ساقطیږي دا ځکه چې ثمن د بیعې عوض دی او پر بیعه باندې تفریع شویدی .

پنځوسمه قاعده: " الساقط لایعود کما ان المعدوم لایعود" .

ترجمه: لکه چې نشت کړی شوی څیز بیرته نه راګرځي غورزیدلی څیز هم داسې بیرته نه راګرځي " یعنې هغه حقوق چې اسقاط قبلوی که کله ساقط شي نو له سقوط نه وروسته بیا بیرته نه راګرځي، ولې هغه حقوق چې اسقاط نه قبلوي هغه په اسقاط سره نه ساقط کیږي .

مثالونه :

۱ ــ که بائع د ثمن د اخیستلو پاره خپل د بیعې د حبس حق ساقط کړ بیا نه شي کولی چې د ثمن د پوره ترلاسه کولو په استناد، بیعه د مشتري څخه حبس کړي .

۲ ــ که د یوې عرصې (میدانی ځمکې) خاوند په هغې عرصه کې چې دهغې نه لارتیریږي د دلاري د خاوند په اجازه ودانۍ جوړه کړه نو د لاری د خاوند حق ساقط شو . وروسته بیرته نه راګرځي که نوموړی ودانۍ هم ونړیږي .

۳ ــ که وارث د خپل مورث د مرګ څخه وروسته د هغه داسې وصیت ته چې پر زیاد د یو نلث څخه ئې کړی وه اجازه ورکړه بیا نه شي کولای چې له دغې اجازې نه رجوع وکړي .

۴ ــ که دائن خپل بدلون ته له هغې دین څخه چې ورباندې ئې وه ابراء وکړه . د هغه دین ساقط شو . وروسته ئې دهغې دعوی نشي اوریدل کیدی .

۵ ــ که چیرته دیو کس شهادت د یو علت په بناء رد شوولی بیا هغه علت رائل شو او په هماغه حادثه کې ئې شهادت بیرته را وګرځاوه . نو دا شهادت ئې نشي قبلیدلی مګر دا چې دا وهلک شهادت که د صغر او ړوند

